# بنو: د سکیورټي فورسز او ترهګرو ترمينځه ډزو تبادله، دوه ترهګر مړه او ګڼ شمير ژوبل

تيره شپه د بنو په جاني خيل سيمه کښې په امنيتي پوسته د ټي ټي پي د وسله والو او اهلکارو ترمينځ د ډزو تبادله شوې ده چې له وجې ئې ترهګر په تيښتې مجبور شوي دي۔

د ډزو په تبادله کې دوه ترهګر وژل شوي او ګڼ نور ژوبل شوي او دوه امنيتي منسوبين په ميړانه او زړورتيا له ترهګرو سره په جګړه کې شهيدان شوي دي۔

**عام ولس تر دې مخکې د ټي ټي پي او حافظ ګل بهادر ډلې په همکارۍ هيڅ شک نه درلود، د جنسونو سره بايد ورته چلند وشي په داسې حال کې چې ټي ټي پي پخپله د دواړو ترهګرو ډلو د جلا کيدو ډرامه افشا کړې ده۔**